مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک

(یوسلاو پنځمه برخه)

## نظام الدين تهذيب

په ۱۹۴۴ز کال کې د دفتاني د قبیلې په یوې پښتـني کورنۍ کې زېږېدلی دئ. د۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې ئـې د حبیبیې او ابن سینا په ښوونځیو کې تدریس کړی دئ. د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په راډیو کابل او د معارف د وزارت د انسایکلوپیډیا په مدیریت کې ئـې کار کړی دئ. په ۱۹۷۸ز کال کې د باندنیو چارو وزیر سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې له خپلې دندې وشړل سو او د ۱۹۷۹ز کال د فبروري له میاشتي ددسمبر تر میاشتي پورې د یوهٔ پرچمي په توګه د پل چرخي زندان کې زنداني سو. د ۱۹۸۰ز کال د جون له میاشتي راهیسې تر اوسه (۱۹۸۶ ـــ ژ) د افغان سترې محکمې رئـیس. د افغان – فلسطین د دوستۍ د ټولنې رئـیس. د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورئ غړی.

## برات علي تاج [1]

د ۱۹۱۵ز کال په شاو خواوو کې د هزاره جاتو په ترکمن درې کې په یوې هزاره کورنۍ کې زېږېدلی دئ. په کابل کې او د ترکیې په استانبول کې ئـې په حقوقو او سوداګرۍ کې تحصیلات کړي دي. د ۱۹۴۰ز لسیزې په اوږدو کې افغانستان ته راستو سو. د ملي اقتصاد د وزارت کارمند. د کابل په پوهنتون کې ئـې د حقوقو او سوداګرۍ تدریس وکړ. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د هزاره جاتو د کمپنۍ رئـیس. په ۱۹۴۸ز کال کې له چنداول څخه د کابل ښار د ښاري شورئ منتخب غړی. په (۱۹۵۰ز کال کې د وطن له بنسټ ایښودونکو غړو څخه او خزانه دار او په (۱۹۵۱ز کال کې د وطن اجرائیوي غړی. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۶۱ز کال پورې ونیول سو. د هزاره جاتو د حالت په هکله ئـې یوه رساله ولیکله او حکومت ته ئـې وسپارله، د همدې رسالې په پایله کې حکومت یو حقیقت موندونکی

[1] - - د ژباړونکي یادونه : په انګلیسي متن کې برات علي تاج لیکل سوی دئ. د افغانستان نامتو او درانده لیکوال، ادیب او شاعر ښاغلي عبدالباري جهاني صاحب دغه یادداشت د ۲۰۲۶ز کال د جولای د میاشتي په لسمي نیټې راولیږه چې صحیح بڼه یې تاج ده : جهاني صاحب وایي : «ګران او محترم ورور رحمت آریا سلامونه او احترامات. د دوهم ټوک په یو سل اوپنځمه برخه کي د برات علي تاج په باره کي معلومات ورکړه سوي دي. زه ګومان کوم چي «تاج» غلط مشهور وي. هغه تاج تخلص کاوه. د تاج په معنا زه هم نه پوهیږم خو د مشهور مبارز برات علي تاج زوی همایون تاج همدا اوس په لندن کي د محبت په نوم مجله چلوي او خپل تخلص د پلار په تعقیب تاج لیکي. څرنګه چي هغه یومشهور مبارز تیر سوی دی ما ویل چي نوم یې صحیح ولیکل سی بهتره به وي. دغه راز په یوه نیژدې مخکنی ګڼه کي عثمان صدیقي لیکل سوی وو چي هغه مشهور لیکوال او مترجم صدیقي نه بلکه عثمان « صدقي» دی. تاته بریاوي او اوږد او له ښې روغتیا سره ملګری ژوند غواړم.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مأموریت وټاکـهٔ چي دی ئـي هم غړی وو. برات علي تاج په ۱۹۶۳ز کال کې په هزاره جاتو کې د همدغـهٔ مأموریت پر مهال وفات سو.

## تاج مـحـمـد

د خان مـحـمـد زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۵ز کال کې له لومړني ښوونځي او په ۱۹۴۰ز کال کې په پېښـور کې له منځني ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې په ملي بانک کې د عملي کار زده کوونکی یا شاګرد. په ۱۹۴۶ز کال کې په کراچۍ کې د ملي بانک مدیر او په ۱۹۴۷ز کال کې په بمبـئـي کې منیجر. په ۱۹۴۷ز کال کې د څو میاشتو لپاره کابل ته راستون سو؛ او وروسته له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۴ز کال پورې په نیویورک کې د امریکا د سوداګریز شرکت [2] د صادارتو مدیر او سرمحاسب سو. په نیویورک کې د شپې ښوونځي ته شامل سو او له «چیس منهتن بانک» [3] سره د زده کړیال /کارآموز په توګه ئـي کار وکړ. په ۱۹۵۴ز کال کې د (امیر الدین شنسب په مشری) له افغان سوداګریز پلاوي سره جرمني ته لاړ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۵ز کال پورې په میونیخ کې د ملي بانک د څانګي کارمند او له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د هامبورګ د دفتر مشر. اوس د مستقل سوداګر په توګه فعال دئ.

## عبدالرؤوف طالع

د ملا عبدالاحد زوی په ۱۹۱۴ز کال کې د هرات په «باغچـهٔ مهتر» کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئـي په ساینس او ادبیاتو کې کړي دي. د حکومت په بـېلابـېلو ارګانونو کې ئـي کار کړی دئ. د مزار شریف د تفتیش د ریاست مشر. د کابل ښاروالی کې مدیر. شاعر.

## مـحـمـد حسین طالب

د غلام حسین زوی په ۱۹۰۶ز کال کې د کندهار د ډنډ په ګندیګان کې زېږېدلی دئ. د لومړیو زده کړو له بشپړلولو وروسته کابل ته راغی. د «حکامو» په ښوونځي کې شامل سو. شاعري ئـي په ۱۴ کلني کې پیل کړې ده. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۵ز کال پورې په کندهار کې رسمي مأمور وو او له ۱۹۳۶ تر ۱۹۴۵ز کال پورې په هرات کې وو. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۰ز کال پورې په مزارشریف کې د پولیسو په څانګي کې د جزا ګانو په برخي کې سرکاتب مقرر سو. د کورنیو چارو د وزارت کارمند. شاعر.

## نورالله تالقاني

د وسله وال ځواک یو پرچمی افسر. د وسله والو ځواکونو د نشراتو د ریاست رئیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د دفاع د وزارت د مطبوعاتو رئیس. د ژورنالیستانو د اتحادیې د مرکزي کمېټي غړی.

## فاروق مـحـمـد تمیز

د (والي) مـحـمـد عمر احمدزي زوی په ۱۹۴۵ز کال کې د لوګر په سرخاب کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۹ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه ئـي خپل لیسانس تر لاسه کړ؛ او په ۱۹۷۴ز کال کې ئـي خپله ماستري په

[2] -American Trading Co.
[3] -Chase Manhattan Bank


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

لاس انجلس کې د کالیفورنیا له دولتي پوهنتون څخه تر لاسه کړه. د لاس انجلس په کالجونو کې ئـې تدریس وکړ. په لاس انجلس کې د بیمې د یوې کمپنۍ خاوند. ‹د روسانو پر ضد – ژ› مقاومت کې فعال. مورنۍ ژبه ئـې پښتـو ده.

## عبدالستار تــنـها

د عبدالغفار زوی په ۱۹۰۸ز کال کې د کابل په دِهٔ افغانانو کې زېږېـدلی دئ. خصوصـي زده کړې ئـې کړې وې. لیکوال او شاعر.

## جنرال شهنواز تـنـی

په ۱۹۸۶ز کال کې د افغانستان د وسله والو ځواکونو ستر درستیز.

## حکیم خان تــنـي وال

په ۱۹۴۶ز کال کې په پکتیا کې زېږېـدلی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د رحمن بابا له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې جرمني ته د لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ. په ۱۹۷۴ز کال کې د جرمني په ‹مون ستر›[4] کې ئـې خپله ماستري په سوسیولوژي کې تر لاسه کړه. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د رحمن بابا د لیسې ښوونکی. د پښتـنـو د ټولني د ‹ټولنیز – اقتصادي› جوړښت په هکله ئـې په کونړ، پکتیا او کندهار کې شپږ میاشتـنی پلټنیز/تحقیقاتي کار وکړ. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. پاکستان ته لاړ.

## شیخ نور احـمـد تقدسي

دی یو هزاره دئ. د ۱۹۴۰ز لسیزې په لومړیو کې په تورکمن درې کې زېږېـدلی دئ. د ۱۹۶۰ز لسیزې په لومړیو کې د عراق نجف ته لاړ چې د آیت الله ګانو : محقق، حکیم او خوی تر لاس لاندې د شیعه مذهب الهیات - پوهنه زده کړې. د ۱۹۶۰ز لسیزې په ورستیو کې افغانستان ته راستون سو د مدیـنـة العلم په نوم د شیعه ګانو یوه مدرسه ئـې پرانیستله. د ۱۹۷۹ز کال په لومړیو کې له افغانستانه وتـښـتـېـد او د ایران په قم کې مـېشت سو. د ‹الدعوه› په نوم د خوځښت بنسټ ئـې کښـېـښود. په ۱۹۸۰ز کال کې تورکمن درې ته راستون سو او د سیمه ییز ‹سپاه پاسداران› د ډلې مشري کوي.

**تره کي** : وګورئ : تره کي

## مـحـمـد احسان تره کي : وګورئ : **روستا مل** ‹نوی نوم›

## مـحـمـد فقیر تره کي

د صاحب جان تره کي لمسی په ۱۹۱۰ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. ژورنالیست او په ۱۹۲۹ز کال کې د انجمن افغان او په ۱۹۳۲ز کال کې د اصلاح کارمند. په ۱۹۳۴ز کال د افغان ادبي ټولنې غړی. په ۱۹۳۸ز کال کې د افغان اکاډیمی د نشراتو مدیر. په کابل کې د حقوقو د پوهنځي مدرس. د اصلاح مدیر. په ۱۹۴۲ او ۱۹۶۴ ز کال کې د لویو جرګو غړی. د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون غړی. په ۱۹۴۹ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست رئـیس. د یو شمـېـر کتابونو مؤلف. مورنۍ ژبه ئـې پښتو وه. د ۱۹۸۰ز کال د مارچ د میاشتې په ۱۶ نـېـټې وفات سو.

[4] -Münster


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

## ډاکټر مـحـمـد رسول تره کی

خپله دکتورا ئـي په سايکولوژي کي د امريکا له متحده ايالاتو څخه تر لاسه کړه. د کابل پوهنتون د ښووني او روزنې د انستيتيوت غړی او وروسته د همدې انستيتيوت / پوهنځي – ژ رئـيس سو. په ۱۹۶۴ز کال کي د کابل والی. له يوې امريکايي مېـرمني سره ئـي وادهٔ کړی دئ. په ۱۹۷۰ز کال کي وفات سو.

## مـحـمـد زمان تره کی

په ۱۹۰۲ز کال کي د غزني په مقر کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کي د «امانِ افغان» محرر. په ۱۹۲۸ز کال کي د اقتصاد محرر. په ۱۹۲۹ز کال کي د اصلاح مرستيال محرر. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۲ز کال پوري د کرني د رياست رئـيس. په ۱۹۶۴ز کال کي د «مجلس اعيان» غړی. د مشرانو جرګي انتصابي سناتور. خصوصي زده کړې لري.

**نور بيا**

## نور محمد تره کي

د نظر محمد تره کي زوی د غزني ولايت د ناوې د ولسوالی په سرهٔ کلي کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ